مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲/۱۱/۲۰

# د ماشوم نړیواله ورځ، کورونا او د تاوتریخوالی نوی باب

## د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي

دوه ویشتمه برخه



د دې مقالې د خپرېدو ورځ د تصادف له مخې، د ماشوم له نړېوالې ورځې سره سمون لري. په نولس سوه پنځه څلوېښتم (۱۹۴۵) کال کې ملګرو ملتونو د دې له پاره د نومبر شلمه (۲۰) د ماشوم نړيواله ورځ ونوموله چې د ماشومانو د ژوند بېلابېلو برخو ته پام وشي او د ژوند د ښه کېدو له پاره يې هڅې وشي؛ خو په افغانستان کې جګړې، کورونا، په خلکو کې د سواد د کچې ټيټوالی او ناپوهۍ په ګډه سره، له کوچنيانو سره د تاوترخوالي اندازه نوره هم لوړه کړې ده. پر ماشومانو او کوچنيانو باندې د داسې يو حالت راتللو په دايره کې ليدل کېږي چې زموږ د ټولنې يو نسل ځپل کېږي او زموږ د ټولنې او هېواد راتلوکې بنسټ همدا اوس زموږ په موجوديت کې، مخ په خرابېدو دی. زموږ په ټولنه کې د دې پر ځای چې ماشوم او کوچني ته، کورنۍ او مشران د هغه حقونه ورکړي؛ تاوتريخوالی ورسره کوي.

له بده شامته چې له ماشومانو او کوچنيانو سره تاوتريخوالی، زموږ په ټولنه کې په يو ډول عادت بدل شوی دی او دا عادت د وخت په تېرېدو سره نور هم پراخېږي او پرسېږي، چې له هره اړخه په لومړي ګام کې ماشومان او کوچنيان ځپي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د کورونا ویروس په رامنځته کېدو او په نړۍ کې په عامېدو سره، په نړیواله کچه تصمیم دا شو چې د دې ویروس د نه دېرېدو او نه خپرېدو یوه چاره د څه مودې له له پاره کرنتین یا په کور کې د خلکو پاتې کېدل دي.

په پرمختللو هېوادونو کې د لویانو او کوچنیانو د بوخت ساتلو له پاره رنګارنګ وسایل او امکانات وکارول شول، په تېره د ماشومانو او کوچنیانو د بوخت ساتلو له پاره؛ خو په وروسته پاتې هېوادونو کې او په تېره زموږ په ټولنه او هېواد افغانستان کې چې له هره اړخه خوارځواکې او ځپلې ټولنه او خلک دي؛ څه وشول او دا دی اوس په نړیواله کچه کله چې د کورونا بلا د دویم ځل له پاره غورېدلې او سر یې را اوچت کړی دی، څه به کېږي او پایلې به یې څه وي؟



دا هم پر کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي یو ډول دی چې کوچنی د یوه ماسک د اخیستو توان نه لري.

سره له دې چې ما « د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي» په اوه لسمه برخه کې ویلي وو چې:

«پرته له شکه چې کرنتین د کورونا ویروس په مخنیوي کې ډېر مؤثر دی، خو د ټولو خلکو په کور پاتې کېدل په کورنیو کې دننه نورې ستونزې هم زېږوي چې هره ټولنه د خپلو جلا امکاناتو او کلتوري چار چلن په چوکاټ کې له یو شمېر نوو ستونزو سره مخ کېږي چې تر ټولو عامه ستونزه د کورنۍ د غړو تر منځ د تاوتریخوالي د رامنځته کېدو مسأله ده، په تېره په افغانستان غوندې ټولنه کې چې یوه نرواکې ټولنه ده او په داسې حالاتو کې د ښځو، ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی لوړې کچې ته رسېږي.»

خو څرنګه چې هم د کورنا موده اوږده شوه او اوږدېږي پسې، هم د کرنتین په پار په کورونو کې د ماشومانو او کوچنیانو پاتې کېدل اوږده شول او نور به هم پسې اوږدېږي؛ نو اړوندې ستونزې هم غځېږي او د کوچنیانو - ماشومانو او کورنیو له پاره نوې ستونزې رامنځته کوي چې د دې ستونزو په ترڅ کې تر ټولو تر فشار لاندې قشر به ماشومان او کوچنیان وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

امریکا غږ په همدې هکله، په افغانستان کې د ماشومانو د ملاتړ نړیوالې ادارې (Save The Children) پر یوې سروې باندې د «افغان ماشومانو سره تشدد دوه برابره زیات شوی» تر سرلیک لاندې لنډ راپور خپور کړ، د دې راپور په یوه برخه کې راغلي دي چې:

«په افغانستان کې د ماشومانو د ملاتړ نړیوالې ادارې (Save The Children) د سروې موندنې ښيي چې د کرونا ویروس پر مهال د ښوونځیو د تړل کېدو له امله په کورنیو کې د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی دوه برابره زیات شوی دی.

دغه سروې چې "یو نسل وساتئ: پر ماشومانو د کوید۱۹ اغیزې" په نوم د دوشنبې په ورځ سپټمبر ۱۴ (وږي ۲۴) خپره شوه، په شپږو میاشتو کې له ۴۸۰ ماشومانو او د هغوی له میندو او پلرونو سره د مخامخ مرکو او په انلاین ډول خبرو له لارې شوې ده.

په سروې کې راغلي: "په هرو لسو ماشومانو کې اته تنه یې (۸۳ سلنه) د منفي احساس د درلودلو په اړه ویلي دي... ۶۳ سلنه کورنیو د کوید۱۹ د وبا پر مهال په ډېرې سختۍ متنوع او قوي خواړه برابر کړي دي. د ښوونځیو د تړل کېدو پر مهال په کورنیو کې تاوتریخوالی دوه برابره زیات شوی دی".

په افغانستان کې د دغې نړیوالې ادارې ویاندې مریم عطایي امریکا غږ ته وویل کله چې ماشومان ښوونځیو ته تلل په کورنیو کې له ماشومانو سره د تاوتریخوالي کچه اته سلنه وه "خو اوس دا شمیره ۱۷ سلنې ته رسېدلې ده".

دا سروې ښيي چې د کروناویروس د وبا پر مهال د بندیزونو له امله ۳۰ سلنه ماشومان له تاوتریخوالي سره مخامخ شوي، ۶۴ سلنه له خپلو ښوونکو سره هیڅ اړیکه کې نه دي او ۸۰ سلنه یې زده‌کړې نه دي کړي.

دغې نړیوالې ادارې ویلي چې کابو ۵ سلنه ماشومانو ویلي چې هره ورځ یو ځل له خپلو ښوونکو سره په اړیکه کې شوي دي.

د ماشومانو د ملاتړ ادارې دغه راز ویلي چې لا هم د افغانستان په ښوونیز سکتور کې پراخې ستونزې شته دي او د کرونا ویروس د وبا له امله لس میلیونه ماشومان له زده‌کړو محروم شوي دي.

په افغانستان کې د کرونا ویروس د وبا له خپرېدو وروسته افغان حکومت د دغه ویروس د پراختیا د مخنیوي لپاره ټول ښوونځي او ښوونیز بنسټونه وتړل او په انلاین بڼه یې ماشومانو ته د زده‌کړو د زمینې برابرولو اعلان وکړ.

د ماشومانو د ملاتړ ادارې یوه جلا سروې چې د افغانستان په شپږو ولایتونو کې ترسره شوې ښيي چې کابو ۲۹ سلنه ماشومانو د تلویزیون، نږدې ۱۴ سلنه د راډیو او ۰.۲ سلنه د انټرنیټ له لارې زده‌کړو ته لاسرسی درلود.

دغې ادارې ویلي چې په افغانستان کې د کروناویروس وبا تر ډېره د نجونو پر ژوند منفي اغیزې کړې دي.»

په دې راپور کې لیدل کېږي چې د کورونايي کرنتین په موده کې، له هره اړخه ماشومان او کوچنیان ځپل شوي دي چې د اوس له پاره یې خلک تاثیرات دومره نه احساسوي، خو په راتلونکو کې به د متضررو ماشوانو او کوچنیانو پر ژوند، ناوړه اغیز ولري چې پایلې به یې نه یوازې متضررو ماشومانو او کوچنیانو او د دوی کورنیو ته، بلکې راتلونکي نسل او راتلونکې ټولنې ته داسې څه په لاس ورکړي چې رغول او راګرځول به یې هم ناشوني وي او هم به لویې غمیزې رامنځته کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ